Mark Boal        : ليکونکی

سرچينی اونيټه : کونټرپونچ ، ۲۰۱۱-۳-۲۷
ژباړونکی :پوهندوی دوکتور سيد حسام (مل)

---

# د وژلو ټيم

**دامريکی دمتحده ايالاتو ساتونکی په افغانستان کی څرنګه بيګناه غير نظامی خلک وژنی اوبيا دهغو له جسدونو څخه دهغو غړی پريکوی اود خپلو افسرانو او آمرانو په مقابل کی ځانونه بريالی ګڼی اوبيادهغودجنګی جناياتو پرعکسونو باندی دپنتاګون له خوا څرنګه سانسور لګول کيږی .**



جريمولوک د داويد برون سره

ديروسبرکال په سرکی وروسته له شپږو سختو مياشوعسکری خد مت څخه په افغانستان کی، د پياده نظام کنډ ک يوټاکلی پريکړی ته ورسيدل ،اوهغه داچی دبرابو(Bravo)په نامه ديوی شرکت دغړو له مينځه حاجی بايد ووژنی ، ددغه کندک غړوددوډی خوړلو په غرمنی ناستو اود ناوختو شپو په مجلسونو کی د

هغوی دخبرو اترو موضوع د بیګناه افغانانو وژل په یو عادی اومعمولی مساله بد له شوی وه ، اوهغوی په دی ډول مرکو سره چی اونیو ، اونیو دوام درلود دخپل دوحشی ګری د خلطی اویا دکځوړی وزن زیاتول، اوځنی نوریی بیا له دی وحشی اوغیرانسانی کړنی ځخه رنځ وړل ،مګر یو ځو نور شمیر یی کوم چی له پیله په سلاح اوټوپکو سره سمبال وه وروسته له نوی کال اود ژمی له موسم ځخه نه چندان لری دقندهار په وچو د ښتو کی دی پا یلی ته ورسید ل چی له خبرو کولو ځخه ډډه وکړی او یواځی د بی ګناه انسانانو (افغانانو) په وژلو لاس پوری کړی . دبورو کمپنی دطالبانو د مینځه وړلو اود امریکا یانو د میشته کیدو دپاره دهیواد په یوه ډیره سختته او په اصطلاح سره په یوه آزاده ، بی قانونه او یاغی برخه کی ددوبی په موسم کی ځای په ځای شوی وه .

------------------------------------------------------------------------------------------------------------

دا دامریکی دنظامی قوتونو یوه بردیم دی چی د (stryker) به نوم یادیږی



------------------------------------------------------------------------------------------------------------

د جنوری په پنځلسم دسهار له مخی د کمپنی د پنځم ستر ایکر بریګارد له دریم قطعی ځخه کوم چی دهغه مقر دتاکوما د واشنګټن له ښار ځخه دباندی په یوه وړه ښارګوټی کی موقیعت درلود دتریلر په واسطه سره ټانکونه او دزغره والو ساتونکی دسپرلیو کاروان د لوی د ښتی په لور روان شو ، ترڅو چی بالاخره دلته دلعل محمد کلاته کوم چی په یوکرهنیز کلی کی چی د خاشخاشو دکروندی په بغل کی موقیعت لری ورسید .





په دی دوه پورتنی عکسونو کی دامریکایانو هغه سربازان کوم چی غیرنظامی  بیگناه افغانان او
عراقیان وژنی اوبیا دمړو څخه غړی اواندامونه پریکوی اوتری خوند اخلی ---
--------------------------------------------------------------------------------

اووروسته له هغه دنوموړی کنډک ساتونکی دخپل چاپیریال دامنیت دنیولو دپاره خپل بردیمونه (سترایکرونه )دهغه منطقی په یوه بغل او څنډه کی ودرول یا یی پا رک کړل چی هلته بی دختو او پروړو بل شی نه وه .له بردیمونو څخه  پلی شو،کله چی د منطقی ځایی خلک ،هغو ولید ،نو په دی گمان  شول  چی  دوی دطالبانو سره دکمک دپاره دلته راغلی دی اوپه گډه سره به پر امریکایانو یرغل وکړی ، کله چی نوموړی زغره وال امریکایی ساتونکی د لعل محمد د  کلی په کوڅو کی تیریدل دهیڅ یومسلح سړی سره یی مخه  ونشو او د دښمن هیڅ نښی او نښانی یی ونه لیدل . برعکس دهغه منطقی دځایی رنځپلی ، سترړی  ستومانو خلکوله طرفه په ښه راغلاست سره بدرقه شول ،هغه خلکوچی برق نه درلودل اود پاکی څښلی اوبوته لاس رسی هم نه لرل ، زیات شمیر یی ږیره ور ، دهغو په تن کی سنتی پخوانی  زړی او شکید لی جامی په سترگو کید ل چی اکثر یی پخپل ژامه کی یو غاښ هم نه درلود ،دهغه ځای د کلی ماشومان ډیره خوشحال

معلومیدل چې ګوندی چاکلیټونه او پیسی به تر لاسه کړی . په هر صورت دا ډیر ناشونی وه چی دهغه ځای خلکو ته کوم چی د طالبانو سره خواخوږی او علاقه لرل ریښتیا وویل شی چی مونږ امریکای ساتونکی یا ستو ، شورشیانو خپل ځانونه په همدغه منطقه کی چیری خوندی کړی وه او پر امریکایی سرتیرو باندی له لری انفجاری ګذارونه کولی .
په دی وخت دامریکایانو ددریم زغره وال کنډک افسران او دهغه قوماندان د کمپ په دی ننه کی دکلی د سپین ږیروسره په خبرو اترو بخت وه ، چی دوه نفر امریکایی سرتیری له کمپ څخه ووتل او په قدم وهلو باندی پیل کړل ترڅو چی د کلی یونهایی څنډی ته ورسیدل چیری چی هلته دکوکنارو فصل اوکرونده وه په قابو کیناستل او په ترصد یی پیل کړل، که چیری کوم سړی پیدا کړی ا و هغه ووژنی ( مګر هغوی په دی نظر وه چی دکوم سړی د وژلوپه وخت کی باید هغوی هیڅ کوم لیونی اولعنتی شاهد ونه ګوری) دغه خبری وروسته دیو نظامی څیړونکی له خوا افشا اوڅرګند شو .
دکال په هغه موسم کی دکوکنارودبوټوقد دومره لوړنه وه چی څوک دهغه بو ټو ترشا ځان پټ کړی ، نو په همدی وخت کی هغه دوه امریکایی سرتیری هریو (Jeremy Morlock ) او (Andrew Holmee ) کوم چی د هغو عکسونه ددی لیکنی په سرکی ښودل شوی دی له لری یو ځوان بزګر ولید چی پخپل کرونده کی کارکول ، اوغیر له هغه نه دهغه په شا وخواکی بل هیڅ څوک نه ښکاریدل ، دغه دوه امریکایی سرتیری کوم چی دهغو نور امریکایی سربازانو ساتنه اوپیره داری کول ، پر نوموړی بزګر یرغل وکړل ، هغه یی را ونیول اود اعدام کولو اویا دوژلو دپاره له ځانه سره ویوړل.
دغه ځوان بزګر ښوی سپین مخ درلوددهغه عمر د (۱۵) کلونو په شاوخواکی وه اود (۲۱) کلن مورلاک او (۱۹) کلن هلومیس څخه ډیر عمر نه درلود ، وروسته له څه مودی څخه څرګند شو چی دهغه نوم ګل محی الدین وه کوم چی په افغانستان کی یو ډیرعام نوم دی ، دهغه په سر کی یو وړه خوله ، اودهغه په تن کی دغربی په ستایل جاکت یا جمپر وه ، دهغه په لاسونو کی هیڅ شی نه وه چی پری دټوپک دلرلوتهمت وشی اوحتا تردی چی دهغه سره بیل اویا دبزګری بل کوم دلاس وسیله هم نه وه اودهغه څیره ډیر خندان ښکاریدل کوم چی وروسته دهغه له وژلو څخه مورلاک امریکایی سربا زته تشویش پیدا شو.
تاسی کولای شی چی ددی وژونکی ټیم ویډوګانی په لاندنی ویب

پاڼه کې وګوری :

The  kill team  Rolling stone

پای